

# په اسلام کې زما لومړۍ ورځ

هغه درې بنيادي اصولو وضاحت چې په
هر يو مسلمان يې زدکړه لازم ده

# په اسلام کې زما لومړۍ ورځ

هغه درې بنیادي اصولو وضاحت چې په
هر یو مسلمان یې زدکړه لازم ده

مرکز أصول
OsoulCenter

ح جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، ١٤٤٦ هـ

أصول ، مركز

يومي الأول في الإسلام: شرح مبسط للأصول الثلاثة التي يجب على المسلم الجديد معرفتها باللغة البشتو. / مركز أصول - ط ١..- الرياض ، ١٤٤٦ هـ

٥٠ ص ؛ ١٤.٨ x ٢١ سم

رقم الإيداع: ١٤٤٦/١٩٢٦٣

ردمك: ٩٧٨-٦٠٣-٨٥٤٥-٠٢-٧

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

■ د مرکز لخوا ددې اصدار تصمیم تر تیب کړی شوی دی

■ دا مرکز ددې اصدار چاپول یا خپره ول چې په هره مسیله سره وي اجازت ورکوي په دې شرط چې هیڅ ډول بدلون به په کې نه کوي او خپل اصلي مصدر ته به په کې اشاره کوي

■ د چاپولو په صورت کې باید د کره والی معیار په نظر کې ونیول شي کوم چې د مرکز لخوا د اعتبار وړ دی

بسم الله الرحمن الرحيم



لومړی بنیادي اصل
ستا پروردګار څوک دی؟ ۱۳

دوهم بنیادی اصل
ستا دین کوم یو دی؟ ۲۱

دریم بنیادي اصل
ستا پیغمبر څوک دی؟ ۳۷



# سریزه

# يوائځې اسلام

## د حق او رښتونی دين دی:

د اسلام مبارک دين هغه دين دی کوم چې الله پاک د ټولو خلکو لپاره د دين په موخه غوره کړی دی او له دې پرته الله پاک بل دين هيڅکله نه قبلوي، د الله پاک وينا ده: ﴿إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسلامُ﴾ [آل عمران: ١٩]. ژباړه: بېشکه الله ته منلی دين اسلام دی [آل عمران: ١٩].

د الله پاک وينا ده:﴿وَمَن يَبتَغِ غَيرَ الإِسلامِ دينًا فَلَن يُقبَلَ مِنهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الخاسِرينَ﴾ [آل عمران: ٨٥]. ژباړه: او هر څوك چې له اسلامه پرته بل دين لټوي نو هيڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانيانو وي. [آل عمران: ٨٥].

څوک چې د اسلام مبارک دين ته غاړه ورکړي او هغه قبول کړي نو له شک پرته هغه په سمه نيغه او روښانه لار مزل پيل کړ، د اسلام لار هغه روښانه او نيغه لار ده چې بنده خپل پروردګاره ته رسوي، د بنده ګانو پروردګار هغه ذات دی چې ټول بندګان يې په دې دنيا کې پيدا کړي دي.

د اسلام مبارک دين د انسانانو لپاره په دې دنيا کې د خوشحالۍ او سوکالۍ لامل دی او همدغه شان د اسلام مبارک دين نيکانو بندګانو ته د آخرت خوشحالي او نيک بختي هم ورپه برخه کوي کله چې نيکان بندګان مړه شي او له مرګ څخه بعد يې الله پاک جنت ته داخل کړي نو دوې به بيا د جنت د هميشه نعمتونو څخه هميشه خوندونه او مزې اخلي.

په همدې خاطر په هر انسان باندې دا خبره واجب ده چې بايد د حق دين په موخه لټون وکړي تر څو د حق دين ته چې اسلام دی ځان ورسوي، د اسلام دين ته غاړه ورکړي هغه له زړه قبول کړي او په حکمونو يې عمل وکړي تر څو د دنيا او اخرت خوشحالي او نيک بختي تر لاسه کړي.

# کله او څرنګه یو انسان په اسلام کې داخلیږي؟

یو انسان هغه وخت د اسلام په دین کې داخلیږي کله چې هغه دا کلمه د زړه په یقین او بشپړ اخلاص سره ووایي: (أشهد أن لا إلٰه إلا الله، وأن محمدا رسول الله) ژباړه: زه له زړه ګواهي ورکوم چې معبود برحق یواځې د الله پاک ذات دی، او محمد صلی الله علیه وسلم د الله پاک پیغمبر دی.

د یقین او اخلاص سره باید ددې کلمې په معنا او مدلول باندې ځان ښه پوهه کړي، هغه څوک چې دا کلمه ووایي او په معنا یې ځان پوهه کړي او ددې کلمې لارښوني عملي کړي نو دا سړی له شک پرته د اسلام په دین کې داخل شو، له دې څخه بعد باید بیا د اسلام نور حکمونه او تعلیمات زده کړي او د خپل وس او توان سره سم په هغې عمل وکړي، بیا چې نور څومره ډیر نیک عملونه کوي په همغه پیمانه یې اجر او ثواب ډیریږي.



## د دې کلمې (أشهد ألا إله إلا الله، وأن محمدًا رسول الله) معنا:

کله چې تا په پوره یقین سره دا کلمه (أشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدًا رسول الله) وویله: نو له شک پرته ته د اسلام په دین کې داخل شوې، خو آیا تاته ددې کلمې حقیقت او معنا معلومه ده؟

- **د لا إله إلا الله معنا**: په دې خبره پخه عقیده لرل چې د عبادت حقدار یوازې د الله پاک ذات دی بل هیڅوک شریک نلري او یوازې الله پاک ددې ټولو مخلوقاتو پیدا کونکی او پالنه کونکی دی، او ددې عقیدې سره بیا ددې خبرې په ژبه باندې اقرار کول.

- **د محمدًا رسول الله معنا**: په دې خبره باندې پخه عقیده لرل چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله پاک پیغمبر او د هغه بنده دی، اخرنی پیغمبر او پیغمبري یې د ټولو انسانانو لپاره ده، او ددې عقیدې سره بیا ددې خبرې په ژبه باندې اقرار کول او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حکمونه منل او د هغه په پیغمبرۍ کې هیڅ شک نه کول، او د هغه د نافرمانۍ څخه ځان ساتل، او د الله پاک بندګي د هغه د لار ښوونو سره سم سر ته رسول.



## د اسلام په قبلولو زمونږ زيرى دربانديٰ!

ګرانـه وروره! سـتا د دژونـد پـه ټولـو ورځـو او شـپو کـې غـوره ورځ او شـيبه هغـه ده پـه کومـه ورځ چـې تـه د اسـلام پـه مبـارک دين کـې داخل شـوې، لـه شـک پرتـه زمونـږ پيغمبـر محمـد صلـى الله عليـه وسـلم ويلـي دي: «الإِسـلام يَهـدم مـا قَبلَـه» رواه مسـلم. ژبـاړه: اسـلام قبلـول مخکنـي ټـول ګناهونـه لـه مينځـه وړي. رواه مسـلم.

معنـا داده چـې سـتا څخـه مخکـې کـوم ګناهونـه، د کفـر پـه حالـت کـې شـوي دي هغـه ټـول درتـه الله پـاک وبښـل، د الله پـاک پـه ښښـنه خوشـحاله شـه! تـه يـې نـن ورځ لـه ګناهونـو پـاک کـړې، تـه نـن ورځ يـوه نـوې د ژونـد سـپينه پاڼـه بيرتـه کـوي تـر څـو لـه ګناهونـو داسـې پـاک شـې لکـه چـې د مـور څخـه همـدا وس پيـدا شـوې، نـوى ژونـد دې لـه خيـر څخـه ډک کـړه پـه سـمه نيغـه او روښـانه لار مـزل پيـل کـړه او تـر سـره يـې ورسـوه تـر څـو خوشـحالي او نيـک بختـي تـر لاسـه کـړې.

## د اسلام په پيرزوينه او نعمت خوشحالي!

هغـه خوشـحالي کومـه چـې تـا د اسـلام قبلولـو پـه وخـت تـر لاسـه کـړه بايـد د ژونـد تـر پايـه درسـره مـل وي، ځکـه چـې د سـمې نيغـې روښـانه لار پيرزوينـه او نعمـت پـه ټولـو نعمتونـو کـې لـوې او سـتر نعمـت دى، کـوم چـې الله پـاک خپلـو بندګانـو تـه ورکـوي، دا نعمـت لـه خـوراک څښـاک او ان تـر سـاه څخـه ډيـر اړيـن دى، دا نعمـت د مـال، جـاه او جـلال څخـه ډيـر اړيـن دى، پـه دې نعمـت بانـدې بايـد مونـږ خوشـحالي وکـړو، د الله پـاک وينـا ده: ﴿قُل بِفَضلِ اللَّهِ وَبِرَحمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَليَفرَحُوا هُوَ خَيرٌ مِّمَّا يَجمَعُونَ﴾ [يونس: ٥٨]. ژبـاړه: ووايـه: د الله پـه فضـل او د هغـه پـه رحمـت، نـو پـدې (قـران) دې خوشـحاله شـي، دا غـوره دى د هغـه (مـال) څخـه چـې (خلـک يـې) جمـع کـوي. [يونس: ٥٨].

ته باید د الله پاک دا نعمت او پیرزوینه په یاد وساتي چې ته يې د ډیرو انسانانو تر مینځ د اسلام دین لپاره غوره کړئ او د اسلام په مبارک دین کې داخل شوي، د الله پاک وینا ده: ﴿فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ﴾ [الأنعام: ۱۲۵] ژباړه: نو چاته چې الله هدايت کول غواړي، سينَه يې د اسلام لپاره پرانيزي [الأنعام: ۱۲۵].

د الله پاک دا لويه او ستره پيرزوينه او نعمت ډير شکر او د الله حمد ثنا ويلو ته اړتيا لري، ته بايد د الله پاک ډير شکر ادا کړئ او د هغه حمد و ثنا ووايئ ځکه چې ته يې په سمه نيغه روښانه لار روان کړئ.

## يو څو بنيادي اصول چې پيژندل يې لازم دي:

کله چې ته د اسلام په مبارک دين کې داخل شوي نو پر تا يو څو بنيادي اصول پيژندل لازم دی دا هغه بنيادي خبرې دي چې د هر يو انسان څخه يې د هغه له مرګ بعد پوښتنه کيږي، او د انسان روستني تګ لاره ټاکي يا خو د هميشه جنتونو په لور او يا خداې مه کړه د دوزخ د اوور په لور يو انسان روانه وي، هغه بنيادي خبرې اترې دادي:

ستا پروردګار څوک دی؟

ته په کوم يو دين روان وئ؟

ستا پيغمبر څوک دی؟



لومړی بنیادي اصل

# ستا پروردګار څوک دی؟

## زما پروردګار الله پاک دی:

هر یو مسلمان دا عقیده لري چې د هغه رب او پروردګار د الله پاک ذات دی هغه ذات چې دا ټول مخلوقات او انسانان يې پيدا کړي دي.

مونږ چې کله په دې لويو او سترو مخلوقاتو کې سوچ او فکر وکړو نمريز او د ستورو پيچلی نظام وګورو، د زمکې نظام د وچې او لمدې نظام د غرونو او سيندونو نظام د ځنګلونو او صحرايي نظامونه وګورو همدغه شان د انسان په تخليق کې سوچ او فکر وکړو، نو دا سوچ او فکر مونږ خامخا يو ستر او رښتوني حقيقت ته رسوي هغه روښتونی حقيقت د الله پاک په وجود باندې ايمان راوړل دي چې دا ټول پچيدلی نظام خامخا يو پوهه د قدرت او رحمت خاوند ذات لري چې هغه د الله پاک ذات دی چې په ډير شائسته او پياوړي نظام سره يې دا مخلوقات پيدا کړي دي او هغه پالي، ځکه چې د يو پيدا کونکي او نظام چلونکي څخه پرته داسې نظام پيدا کيدل او چليدل هيڅ عقلي امکان نلري، همدې خبرې ته الله پاک اشاره کړې ده، د الله پاک وينا ده: ﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ﴾ [الطور: ۳۵]. ژباړه: آيا هغوی پرته له يو څه (خالق) څخه پيدا شوي (او) که هغوی خپله پيدا کوونکي دي؟ [الطور: ۳۵].

نه خو دې کائناتو خپل ځان خپله تخليق کړی دی او نه دوې له کوم خالق پرته تخليق شوي دي ځکه چې داسې کړنه هيڅ عقلي امکان نلري.

## د عبادت حقدار يواځې د الله پاک ذات دی:

الله پـاک د ټولـو مخلوقاتـو پـروردګار او يواځـې همغه د عبـادت حقدار دی، ځکـه چـې همغـه خالـق او پالنـه کونـک دی او ټولـو مخلوقاتـو تـه رزق ورکونکـی دی پـه دې کـې ورسـره هيڅـوک شـريک نـه دي نـو چـې پـه تخلـق او پالنـه کـې شـريک نلـري نـو پـه عبـادت کـې هـم هيڅـوک ورسـره د شـراکت حـق نلـري، د الله پـاک وينـا ده: ﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ﴾ [الأنعام: ١٠٢]. ژبـاړه: همـدا الله دی ستاسـو رب، لـه هغـه پرتـه -پـه حقـه- کـوم بـل معبـود نشـته، د هـر څـه پيـدا کوونکـی دی نـو ويـې لمانځـئ او هماغـه پـه هـر شـي څارونکـی ساتونکی دی. [الأنعـام: ١٠٢].

پـه هـر يـو انسـان بانـدې دا خبـره لازم ده چـې يواځـې بايـد د الله پـاک عبـادت وکـړي او ور سـره هيڅـوک شـريک نـه کـړي، د الله پـاک وينـا ده: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [البقـرة:٢١]. ژبـاړه: ای خلکـو! د خپـل رب عبـادت وکـړئ، هغـه (رب) چـې تاسـې او لـه تاسـې وړانـدې خلـک يـې پيـدا کـړي، کېـدای شـي چـې تاسـې ځانونـه وژغـورئ (د الله تعالـی لـه عـذاب څخـه). [البقـرة:٢١].

د الله پـاک وينـا ده:﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ [النسـاء: ٣٦]. ژبـاړه: او (يـوازې) الله ولمانځـئ او هيـڅ شـی مـه ورسـره شـريکوئ، [النسـاء: ٣٦].



## د الله پاک توحید په لوري د پیغمبرانو بلنه:

سره لـه دینـه چې د الله پـاک عبـادت او بندګي د انسـاني فطرت غوښـتنه ده خـو پـه دې سـر بيـره الله پـاک د خپلـې مهربانـۍ لـه مخې مونـږ همداسـې بـې سـر نویشـته نـه يـو پریښـي بلکـه مونـږ تـه يـې زمونـږ د لارښـونې لپـاره خپـل پیغمبـران رالیږلـي دي او پـه هغـوې يـې خپـل اسـماني کتابونـه نـازل کـړي دي، تـر څـو مونـږ تـه د سمې لارې لارښـونه وکـړي تـر څـو مونـږ د خپـل رب پیژندګلـو تـه ځانونـه ورسـو، د الله پـاک وینـا ده: ﴿إِنَّـا أَرْسَـلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِـيرًا وَنَذِيـرًا وَإِنْ مِـنْ أُمَّـةٍ إِلَّا خَـلَا فِيهَـا نَذِيـرٌ﴾ [فاطـر: ٢٤].

ژبـاړه: پرتـه لـه شـکه تـه مـو لـه حـق سـره زیـری ورکوونکـی او وېروونکـی لیږلـی یې او هیـڅ یـو داسـې ولـس بـه نـه وي چې کـوم وېروونکـی پکـې نـه وي تیـر شـوی. [فاطـر: ٢٤].

د بشـریت پـلار آدم علیـه السـلام نـه واخلـه وریسـې نـور ټـول پیغمبـران لکـه نوح،ابراهیم،موسـی، عیسـی، او داسـې نـور پیغمبـران چـې پـاې يـې زمونـږ پـه خـوږ پیغمبـر محمـد صلـی الله علیـه وسـلم بانـدې شـوې ده، دوې ټولـو پیغمبرانـو پـه يـوه بنیـادي او بنسـټیزې خبـرې بانـدې اتفـاق کـړی دی، هغـه بنیـادي خبـره، پـه الله پـاک بانـدې ایمـان او یواځـې د الله پـاک عبـادت تـه خلـک رابلـل دي ځکـه چـې الله پـاک برحـق معبـود دی او د الله پـک څخـه پرتـه نـور باطـل معبـودان د هیـڅ برابـر دي، کـه هغـه انسـانان وي، یـا کاهـې بوټـې وي یـا سـتوري نمـر وي او داسـې نـور، د الله پـاک وینـا ده: ﴿ وَلَقَـدْ بَعَثْنَـا فِـي كُلِّ أُمَّـةٍ رَسُـولًا أَنْ اُعْبُـدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُـوا الطَّاغُـوتَ ﴾ [النحـل:٣٦].

ژبـاړه: و مـوږ هـر ولـس تـه يـو رسـول ولیـږه چـې الله ولمانځـئ او لـه باطلـو معبودانـو ځـان وسـاتئ. [النحـل:٣٦].

د الله پـاک وینـا ده:﴿وَمَـا أَرْسَـلْنَا مِـنْ قَبْلِـكَ مِـنْ رَسُـولٍ إِلَّا نُوحِـي إِلَيْـهِ أَنَّـهُ لَا إِلَـهَ إِلَّا أَنَـا فَاعْبُـدُونِ﴾ [الأنبيـاء: ٢٥]. ژبـاړه: او لـه تـا مخکـې مـو هیـڅ داسـې رسـول نـه دی لیږلـی چـې هغـه تـه مـو دا وحـی نـه وي کـړې چـې یقینـاً لـه مـا پرتـه بـل معبـود نشـته نـو (يـوازې) زمـا عبـادت کـوئ. [الأنبيـاء: ٢٥].

## د الله پاک ښايسته نومونه او صفتونه:

د الله پاک ډېر ښايسته نومونه او صفتونه دي کله چې مونږ د الله پاک په نومونو او صفتونو کې فکر او سوچ وکړو نو زمونږ مينه د الله پاک سره ډېره شي او په زړه کې مو د الله پاک نه اميد او د هغه نه ويره ځاې ونيسي، د الله پاک وينا ده: ﴿اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ لَهُ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَى﴾ [طه:٨]. ژباړه: الله تعالى دى؛ نشته حقدار د بندګۍ مګر هغه دى، خاص هغه لره دي ښايسته ښايسته نومونه. [طه:٨].

د الله پاک ښايسته نومونه د هغه په ښايسته صفتونو دلالت کوي، ځنې يې دادي:

- **الرحمن والرحيم**: رحمن او رحيم: معنا ډېره مهربانه! د الله پاک وينا ده:﴿وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ﴾[البقرة: ١٦٣] ژباړه: او ستاسې (په حقه) معبود يو دى، نشته بل څوک لائق د عبادت مګر هغه (الله) ډېر مهربان پوره رحم کوونکى دى. [البقرة: ١٦٣] الله پاک د ډېرې پراخه مهربانۍ خاوند دى، د هغه مهرباني د هغه ټول مخلوق ته پراخه او رسيدلي ده، په دنيا کې د الله پاک مهرباني ټول مخلوق ته رسيدلي ده برابره خبره ده چې انسانان دي يا ځناور دي مسلمانان دي يا کافران دي او داسې نور دي ټولو ته د الله پاک مهرباني رسيدلي ده، د الله پاک وينا ده: ﴿وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ [الأعراف: ١٥٦] ژباړه: او رحمت مې په هر څه باندې خپور شوى دى. [الأعراف: ١٥٦] په دنيا کې الله پاک دوې ټولو ته روزي ورکوي دوې ته صحت خوراک څښاک او بچې ورکوي او داسې نور، مګر په اخرت کې بيا الله پاک يواځې په خپلو نيکانو بندګانو باندې مهربانه دى، هغه نيکان بندګان کوم چې د پيغمبرانو په لاره تللي او د خپل پروردګار عبادت او بندګي يې کړې ده، نو دوې لپاره بيا پوره او هميشه خوشحالي او نيک بختي ده.

- **الخالـق**: معنـا پیـدا کونکـی د الله پـاک وینـا ده: ﴿اللَّهُ خَالِـقُ كُلِّ شَـيْءٍ﴾ [الزمـر: ٦٢] ژبـاړه: الله پـاک د هـر شـي پیـدا کونکـی دی. [الزمـر: ٦٢] الله پـاک هغـه ذات دی چـې زمکـه، اسـمانونه او ټـول لـوې او واړه مخلوقـات یـې پیـدا کـړي دي د زرې نـه واخلـه تـر نمـر پـورې دا ټـول پـه ټولـه د الله پـاک مخلوقـات دي، او پـه ډېـر پیـاوړي نظـام یـې تخلیـق کـړی دي او پالنـه یـې کـوي د الله پـاک پـه نظـام کـې هیـڅ کمـی او نقصـان شـتون نلـري.

- **الغفـور**: معنـا ښـنه کونکـی ذات:الله پـاک هغـه ذات دی چـې د ټولـو بندګانـو ټـول ګناهونـه ښـي خـو چـې څـوک ورتـه توبـه وباسـي او ګناهونـه پریـږدي کـه هرڅومـره ډېـر او لـوې ګناهونـه یـو چـا کـړې وي مګـر بیـا پـه رښـتیا سـره الله پـاک تـه توبـه وباسـي او هغـه تـه بیرتـه رجـوع وکـړي الله پـاک یـې ټـول ګناهونـه ښـي، بلکـه کلـه نـا کلـه خـو یـو بنـده تـه د هغـه ګناهونـه د هغه د توبـې ویسـتلو پرتـه هـم ښـي خـو د شـرک ګنـاه بیـا هیڅکلـه د توبـې پرتـه نـه ښـي، الله پـاک د بندګانـو د ګناهونـو د ښـلو پـه موخـه ډېـر اسـباب پـه ګوتـه کـړي تـر څـو خپلـو بندګانـو تـه د هغـوې ګناهونـه وښـي، د بیلګـې پـه توګـه توبـه ویسـتل، اسـتغفار غوښـتل، ښـه ایمـان او نیـک عمـل کـول، د الله پـاک د مخلوقاتـو سـره ښـیګړه کـول او داسـې نـور د الله پـاک وینـا ده: ﴿وَإِنِّي لَغَفَّـارٌ لِمَـنْ تَـابَ وَآمَـنَ وَعَمِـلَ صَالِحًـا ثُـمَّ اهْتَـدَى﴾ [طـه: ٨٢]. ژبـاړه: او زه خامخـا هغـه چاتـه ښـه بخښـونکی یـم چـې توبـه یـې وویسـته، ایمـان یـې راوړو، ښـه عمـل یـې وکـړ بیـا پـه سـمه لار برابـر شـو.

- **الرزاق**: معنا: روزي ورکونکی: الله پاک هغه بادشاه دی چې روزي د هغه په لاس کې ده هغه غني او بې حاجته ذات دی، د خپلې مهربانۍ له مخې ټول مخلوق ته رزق او روزي ورکوي، د الله پاک وینا ده:﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ * مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ * إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾ [الذاریات: ٥٦- ٥٨]. ژباړه: او ما پیری او انسان بل څه ته نه دي پیدا کړي پرته له دې چې زما عبادت وکړي [د توحید عقیده ولري]. له هغوی څخه نه روزي غواړم او نه دا غواړم چې خواړه راکړي. پرته له شکه همغه الله ښه روزي ورکوونکی محکم (کلک) قوت والا دی. [الذاریات: ٥٦- ٥٨].

- **السلام**: معنا د هر ډول نیمګړتیا څخه پاک او د سلامتیا خاوند دی، د هغه ټول صفتونه د کمال او د جمال او د جلال دي، هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو څخه سلامتیا په وینا او عمل کې خوښوي، د الله پاک وینا ده: ﴿هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ﴾ [الحشر: ٢٣]. ژباړه: هغه الله دی چې پرته له هغه بل حقدار د بندګۍ نشته، پاچا، ډېر سپېڅلی، له ټولو نیمګړتیاوو پاك.



- **العلیم**: معنا پوهه ذات: الله پاک اوریدونکی، لیدونکی، او پوهه ذات دی، هر شي يې په خپل علم او پوهه کې راګیر کړی دی، هیڅ یو شی که ښکاره وي یا پټ وي د الله پاک څخه پټیدلی نه شي، د ماضي حال او راتلونکي زماني د ټولو حالتونو او بشپړ تفصیل څخه خبر دی، د بندګانو ټول عملونه ورته ټول په ټوله معلوم دي، د نیکانو بندګانو نیکي او د بدعمله خلکو بدعملي د هغه څخه هیڅکله پټیدلی نه شي د الله پاک وینا ده: ﴿إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ۲۳۱]. ژباړه: الله پاک په هر شی باندي پوهه دی. [البقرة: ۲۳۱]

الله پاک د ټولو مخلوقاتو رب او پالنه کونکی دی هر څه يې ښايسته پيدا کړي دي او په مخلوق کې هر یو ښايسته او هر یو کمال د الله پاک د ښایست او کمال اثر او پایله ده.





## دوهم بنيادی اصل

# ستا دين کوم يو دی؟

### زما دين اسلام دی:

الله پاک ته تسليمېدل او د هغه توحيد منل يواځې د هغه عبادت کول شرک او مشرکانو سره خپلې اړيکې ختمول دېته اسلام وايي.

هغه څوک مسلمان دی چې د اسلام په دين کې داخل شي خپل کارونه لارې چارې الله پاک ته وسپاري، په هغه رښتونی ايمان ولري، او د هغه وحدانيت ته غاړه کېږدي د خپل وس او توان سره سم د هغه ټول حکمونه په ځای کړي او د نافرمانۍ څخه يې ځان وساتي، د الله پاک وينا ده:﴿وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا﴾ [النساء: ١٢٥] ژباړه: او له هغه چا نه په دين کې څوك غوره دی چې الله ته يې ځان تسليم کړی، حال دا چې ښېګڼې والا دی، او د حق پلوي ابراهيم په دين پسې روان وي [النساء: ١٢٥].

د الله پاک وينا ده:﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ [فصلت: ٣٣]. ژباړه: او تر هغه زيات غوره وينا والا څوک دی چې د الله په لور بلنه کوي، نېک عمل کوي او وايي چې زه له مسلمانانو څخه يم. [فصلت: ٣٣].



## د اسلام له ښایسته خوبیانو څخه:

- اسلام د عدل او انصاف دین دی، هرچاته د عدل او انصاف سپارښتنه د هر چا سره کوي، نیږدې خپلوان وي که بردې خلک وي، دوست وي که دوښمن وي، مؤمن وي که کافر وي، ټولو سره باید یو شان د عدل او انصاف په بنیاد کړنې تر سره کړي، د الله پاک وینا ده:﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ﴾ [النحل: ۹۰] ژباړه: له شک پرته الله پاک د عدل او انصاف حکم کوي، [النحل: ۹۰] الله د عدل او انصاف بادشاه دی، د هغه په خوا کې په هیچا باندې ظلم او زیاتی نکیږي، د قیامت په اړه د الله پاک وینا ده: ﴿الْيَوْمَ تُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ﴾ [غافر: ۱۷]. ژباړه: نن به هر چاته د خپلو کړنو بدله ورکول کیږي، نن ظلم نشته، بېشکه الله چټک حساب کوونکی دی[غافر: ۱۷].
- اسلام د مهربانۍ دین دی، د الله پاک وینا ده: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِلعَالِمِينَ﴾ [الأنبياء: ۱۰۷] ژباړه: او نه یې لیږلی مونږ ته؛ مګر رحمت د ټولو خلکو لپاره [الأنبياء: ۱۰۷] . پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویلي دي:«الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ، ارْحَمُوا أَهْلَ الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ» رواه أبو داود. ژباړه: په مهربانه خلکو مهربان ذات مهرباني کوي تاسې د زمکې والاو باندې مهرباني کوئ الله پاک به پر تاسې مهرباني وکړي. رواه أبو داود.
- اسلام د مینې محبت او د ټولنیز الفت دین دی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ» رواه البخاري. ژباړه: په تاسې کې یو څوک تر



هغه وخت پورې پوره مؤمن نه شي کېدلی تر څو پورې چې د بل وروړ لپاره هغه څه خوښ نکړي کوم چې د خپل ځان لپاره خوښوي. رواه البخاري.

- اسلام د اساني کولو دين دی، د اسلام مبارک دين تر ډېره کوشش کړی دی تر څو د خلکو څخه سختي لرې کړي په دې خبره هر هغه څوک علم لري څوک چې د اسلامي تعليماتو څخه خبر وي، د الله پاک وينا ده: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ١٨٥] ژباړه: الله پر تاسي اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي. [البقرة: ١٨٥] د الله پاک وينا ده: ﴿مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ﴾ [المائدة: ٦] ژباړه: الله نه غواړي چې پر تاسو څه تنګون راولي [المائدة: ٦] د الله پاک وينا ده: ﴿لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ [البقرة: ٢٨٦]. ژباړه: الله هېڅ ساکښ ته د هغه له وسې څخه پورته مسؤوليت نه متوجه کوي . [البقرة: ٢٨٦].
- اسلام د پوهې او پوهاوي دين دی، تر ټولو لومړی ايت د قرآن کريم د پوهاوي په اړه نازل شوی دی، ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾ [العلق:١] ژباړه: ولوله د خپل هغه پالونکي پر نوم چې پيدا يې کړ[العلق:١]
- د اسلام دين هر يو مسلمان نارينه او ښځينه ته د علم تر لاسه کولو تر غيب ورکوي، د الله پاک وينا ده:﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ [طه: ١١٤] ژباړه: او ووايه ای زما پروردګاره زما علم زيات کړې.

هغه خلک چې علم او پوهه ولري ډېر لوړ مقام تر لاسه کولی شي، د الله پاک وينا ده:﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾ [المجادلة: ١١]. ژباړه: لله په تاسي کې د هغو کسانو درجې اوچتوي چې ايمان يې راوړی او چا ته چې علم ورکړل شوی [المجادلة: ١١].

## اسلام نړیوال دین دی:

اسلام د ټولو نړیوالو لپاره شامل دین دی، داسې نه دی چې په زمکه کې د یو ځانګړیو او خاص خلکو لپاره ټاکل شوی دی، اسلام یواځې د عربانو لپاره ځانګړی نه دی، بلکه اسلام د ټولو خلکو لپاره د دین په حیثیت سره ټاکل شوی دی، الله پاک په قرآن کریم کې خپل پیغمبر ته په دې اړه داسې وایي: د الله پاک وینا ده:﴿قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾ [الأعراف: ۱۵۸]. ژباړه: ووایه: ای خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم چې داسمانو او ځمکې باچاهي خاص هغه لره ده، له هغه پرته (په حق سره) بل معبود نشته هماغه ژوندي کوي او مړه کوي نو په الله او هغه رالیږلي امي نبي یې ایمان راوړئ چې په الله او ټولو خبرو یې ایمان لري او متابعت یې وکړئ چې سمه لار وموموئ[الأعراف: ۱۵۸].

همدغه شان د اسلام مبارک دین د یوې ځانګړې زمانې او وخت پورې تړلی نه دی بلکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د زمانې نه واخله تر قیامته پورې حق او رښتونی دین د اسلام دین دی، د الله پاک وینا ده:﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران: ۸۵].

ژباړه: او هر څوک چې له اسلامه پرته بل دین لټوي نو هیڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانیانو وي[آل عمران: ۸۵].

## د اسلام دین د ژوند هر اړخ ته شامل دی:

- د اسلام دین د ژوند تیره ولو لپاره تګ لاره او قانون دی، په دې تګ لاره کې د یو مسلمان یواځې ژوند او ټولنیز ژوند او د ژوند هر اړخ بیل بیل بیان شوی او روښانه شوی دی د سیاست نه واخله تر اقتصاد او ټولنیز ژوند پورې دا هر څه په اسلامي تعلیماتو کې بیان شوي دي.
- د اسلام دین عقیده، عمل، او شریعت دی، په اسلام کې عقیده، ایمان، عبادات اخلاق او آداب ټول په پوره بڼه بیان شوي دي.
- د اسلام شریعت حکمونه د هر انسان تر او د خپل رب سره، د خپل ځان سره، او د نورو انسانانو سره او حتی د ځناورو سره باید څرنګه وي اسلام ددې خبرې بشپړ تفصیل او وضاحت کړی دی.
- د اسلام دین د زړه ، روح او بدن سوکالی او پرمختګ ته ډیره پاملرنه کړې ده.

لنډ باید داسې ووایو چې د اسلام مبارک دین د انسانانو د دنیا او آخرت سوکالي لپاره هلې ځلې کوي.



## د اسلامي عقیدې بنیادونه

### د ایمان بنیادي ارکان

اسلامي عقیده په دې شپږو لویو خبرو باندي د زړه له تله له پیاوړي ایمان او تصدیق څخه عبارت دی:

۱. **په الله پاک باندې ایمان:** د الله پاک په وجود باندې ایمان، او په دې خبرو ایمان چې الله پاک خالق دی، مالک دی، او د ټولو مخلوقاتو پالنه کوونکی دی، او یواځې الله پاک د عبادت حقدار دی بل هیڅوک شریک نلري، او الله پاک د ښایسته نومو او صفتونو خاوند دی، د هر ډول نیمګړتیاوو څخه پاک دی او د الله پاک په څیر هیڅوک شتون نلري.

۲. **د الله پاک په ملائکو ایمان:** ملائکې د الله پاک مخلوق دی د عبادت لپاره یې پیدا کړې دي، د الله پاک د ټولو حکمونو پیروي کوي او د هغه هیڅ ډول نافرماني نکوي، او هغه کارونه کوم چې الله پاک ورته سپارلي دي په ښه شان سره یې سر ته رسوي، مونږ د ملائکو په اړه اجمالي ایمان لرو د هغوې وجود منو او د هغوې هغه نومونه او صفتونه چې په قرآن او سنت کې بیان شوي دي هم منو، د بیلګې په توګه جبریل علیه السلام

پیغمبرانو ته په وحي راوړلو مقرر شوی و میکائیل علیه السلام په بارانونو او شینکو مقرر دی، اسرافیل علیه السلام په شپیلي کې په پوکې کولو مقرر دی، او ملک الموت د ساه په اخستلو او قبض کولو مقرر دی او خازن بیا د دوزخ په اوور مقرر دی.

۳.**په اسماني کتابونو ایمان لرل:** په هغه اسماني کتابونو ایمان لرل کوم چې الله پاک د خپلو بندګانو د سوکالي او سمې لارې په خاطر نازل کړې دي تر څو د الله پاک بندګان د دنیا او اخرت خوشحالي او کامیابي تر لاسه کړي، نو مونږ په هغه ټولو اسماني کتابونو باندې ایمان لرو، او د کومو کتابونو نومونه چې ذکر شوي دي نو مونږ د هغې په تفصیل باندې ایمان راوړو او مونږ هغه منو، د بیلګې په توګه قرآن کریم الله پاک په محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړی دی، انجیل الله پاک په عیسی علیه السلام باندې نازل کړی دی، تورات الله پاک په موسی علیه السلام باندې نازل کړی دی، زبور الله پاک په داود علیه السلام باندې نازل کړی دی، همدغه شان یو څه صحیفې الله پاک په ابراهیم علیه السلام باندې نازل کړې دي.

**٤.په پیغمبرانو باندې ایمان:** پیغمبران د انسانانو له جملې څخه بشر او الله پاک په خپله مهربانۍ سره د بندګانو د خوشحالۍ او سوکالۍ لپاره رالیږلي دي تر څو د الله پاک بندګانو ته د الله پاک پیغامونه او حکمونه ورسوي، تر ټولو لومړی پیغمبر نوح علیه السلام او تر ټولو اخرنی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی پیغمبران په ټولو انسانانو کې د دین په اړه ډیر بشپړ او کامل بندګان دي، د دوې ټولو یو لوې او اړین مقصد د الله پاک پیغام د الله پاک بندګانو ته رسول دي تر څو ټول بندګان یواځې د الله پاک بندګي وکړي او د هر ډول شرک څخه ځان لرې وساتي هر د خیر کار وکړي او د هر شر څخه ځان لرې وساتي.

مونږ ایمان لرو چې الله پاک د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره پیغمبران رالیږلي دي او په خلکو باندې یې د پیغمبرانو پیروي کول لازم کړي دي، ځنې پیغمبران داسې دي چې د هغوې نومونه او قیصې الله پاک په قرآن کریم کې بیان کړي دي د بیلګې په توګه ادریس، نوح،ابراهیم، موسی، عیسی، هود، صالح، شعیب، علیهم السلام، د دوې نومونه الله پاک ذکر کړي دي، د الله پاک وینا ده:(وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ) [غافر: ٧٨].



ژباړه: او بېشکه موږ له تا مخکې هم رسولان لېږلي چې موږ يې تا ته د ځينو (حالات) بيان کړي او د ځينو مو نه دي درته بيان کړي، او هيڅ کوم رسول ته دا (واک) نشته چې د الله له اجازې پرته څه نښانه راوړي، خو بيا چې د الله امر راشي نو په حقه پرېکړه وشي او باطل منونکي هملته په تاوان کې پرېوځي. [غافر: ۷۸].

**۵.د اخرت په ورځ ايمان**: د قيامت هغه ورځ چې الله پاک به په هغه ورځ ټول بندګان د حساب کتاب لپاره سره راټول کړي تر څو د هغه عملونو حساب کتاب ورسره وکړي کوم چې دې بندګانو په دنيا کې کړې دي، تر دې چې خلک به دوه ډلې شي يوه ډله به د نيکانو په جنت کې ځاي ونيسي او بله ډله د بدعملو به د دوزخ په اوور کې د کړاونو او عذابونو سره مخامخ شي، مګر هغه بنده چې ايمان يې راوړی وي خو لوي لوي ګناهونه يې کړې وي نو د هغه حکم الله پاک ته سپارل شوی دی که خوښه يې شي نو ښښنه به ورته وکړي او که خوښه يې شي نو د يو څه وخت لپاره به يې د دوزخ په اوور وسيزي او بيا به يې جنت ته داخل کړي.

**۶.د خير او شر په تقدير ايمان لرل**: هر يو مسلمان بايد دا ايمان او عقيده ولري چې هر څه چې مخکې تر سره شوي دي يا وس تر سره کيږي يا په راتلونکي تر سره کيږي دا ټول په ټوله د الله پاک په علم کې دي او د ټولو مخلوقاتو تقدير الله پاک ليکلی دی، په دې کائناتو کې چې هر څه تر سره کيږي دا ټول په ټوله د الله پاک د علم او تقدير سره سم تر سره کيږي که چيرته د خير لارې چارې وي نو دا خو د الله پاک مهرباني ده او که چيرته په ښکاره د شر لارې چارې وي نو دا بيا د الله پاک لخوا يا خو ازميښت دی يا عذاب دی دا ټول د الله پاک د علم او حکمت سره سم تر سره کيږي، کله چې يو بنده د خير او شر په تقدير ايمان ولري نو زړه ته يې ارام راشي او د راحت ساه واخلي او خپل ټول کارونه الله پاک ته وسپاري ځکه چې هر څه د الله پاک په لاس کې دي هغه څه به کيږي چې الله پاک يې وغواړي.



## د اسلام بنيادي ارکان:

د اسـلام پنځـه بنيـادي ارکان دي چـې هـر يـو مسـلمان يـې بايـد وپيژنـي او پـر ځـاي کـړي:

١. **لا إله إلا الله، وأن محمـدًا رسـول الله**: ګواهـي ورکـول دا کلمـه د توحيـد پـه ژبـه بانـدې ويـل او دزړه نـه وربانـدې يقيـن او بـاور کـول، او پـه دې خبـره ايمـان لـرل چـې د عبـادت حقـدار يواځـې د الله پـاک ذات دی، او محمـد صلـی الله عليـه وسـلم د الله پـاک راليـږل شـوی پيغمبـر دی.

٢. **د لمانځـه پابنـدي کـول**: پـه هـر يـو مسـلمان بانـدې د ورځـې او شـپې پنځـه وختـه لمونـځ ادا کـول فـرض دي پـه ښـه شـان سـره بـه دا لمونځونـه د الله پـاک د تعظيـم پـه موخـه ادا کـوي، ددې لمونځونـو خپـل وختونـه دي، لکـه د سـهار لمونـځ، ماسپښـين لمونـځ، مازديګـر لمونـځ، ماښـام لمونـځ او ماخوسـتن لمونـځ، ددې فرضـي لمونځونـو پرتـه نـور لمونځونـه هـم شـتون لـري.

٣. **زکات ورکـول**: هـر يـو مالـداره مسـلمان بـه د خپـل مـال څخـه پـه ډيـر کـم شـرعي مقـدار سـره خپـل مـال غريبانانـو او مسـکينانو او د زکات حقدارانـو تـه ورکـوي.



**٤. د رمضان روژي نیول**: د رمضان د میاشتي پوره روژي نیول د سبا د راختلو نه بعد د خوراک، څښاک او د خپلي کور ودانـي سره د همبسترۍ کولو نه ډډه کولو ته د الله پاک د رضا په خاطر شرعي روژه وایي.

**٥. د بیت الله حج ادا کول**: په ټول عمر کي کم از کم د الله پاک د رضا په خاطر په مکه مکرمه کي د الله پاک د کور بیت الله حج ادا کول د هغه چا لپاره چي وس او توان ولري فرض دي.



## په اسلام کې عبادات:

**عبادت**: د توحید او اخلاص په بنیاد الله پاک ته د هر هغه نیک عمل او وینا په وجه خپل ځان نیژدې کول کوم چې د الله پاک خوښ وي او وربانـدې راضي کیږي برابره خبره ده چې دغه عمل او وینا پټه وي یا ښکاره وي دیته شرعي عبادت ویل کیږي.

- **ځنې ویناوې چې عبادت وي**: لکه د قرآن کریم تلاوت کول، د الله پاک څخه دعا غوښتل، د الله پاک ذکر کول، د ګټور علم ښونه کول، او د نورو خلکو لپاره خیر خواهي کول او داسې نور.
- **ځنې نیک عملونه چې عبادت وي**: لمونځ اودس کول، حج ادا کول، د خلکو په اړتیاو په پوره کولو کې کوشش کول او داسې نور.
- **ښکاره عبادت**: هغه نیک عمللنه چېځ په سترګو لیدل کیږي او په غوږونو اوریدل کیږي، لکه لمونځ او دس کول، حج ادا کول، د قرآن کریم تلاوت کول، د الله پاک لورې ته بلنه ورکول، د خپلوانو سره خپلولي پالل او داسې نور.
- **پټ عبادت**: هغه نیک عملونه کوم چې د زړه سره تړاو لري، د بیلګې په توګه د الله پاک سره مینه کول، د هغه نه امید ساتل، د هغه نه ویره کول او په هغه باندې خپل ځان سپارل.



## په اسلام کې د عبادت اهمیت:

عبادت هغه لويه موخه ده چې په خاطر يې الله پاک دا ټول انسانان او مخلوقات پيدا کړې دي، د الله پاک وينا ده: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنْسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ﴾ [ الذاريات: ٥٦]. ژباړه: او ما پيرى او انسان بل څه ته نه دي پيدا کړي پرته له دې چې زما عبادت وکړي [د توحيد عقيده ولري]. [ الذاريات: ٥٦].

په اسلامي شريعت کې د عبادت سره خورا ډېر حکمتونه او ګټورې فايدې تړلې دي کوم چې د بندګانو په نفسونو او د هغوي په ژوند کې ليدل کيږي، د عبادت غوره والى د بيلګې په توګه په عبادت سره بشري نفسونه پاک کيږي، او انساني اړخ بشپړ کمال ته رسيږي.

په همدې خاطر هر انسان عبادت کولو ته ډېره اړتيا لري لکه څرنګه چې د انسان بدن خوراک څښاک ته اړتيا لري همدغه شان د انسان روح او زړه د الله پاک عبادت کولو ته اړتيا لري تر څو خوشحاله او نيک بخته شي، ځکه چې د الله پاک په ياد باندې زړونو ته خوشحالي او راحت راځي، او د الله پاک سره تعلق ډېريږي، د عبادت خاوندان په ټولو انسانانو کې خوشبخته او نيک بخته خلک دي که يو څوک غواړي چې خوشحالي او نيک بختي تر لاسه کړي نو په ښه شان سره بايد عبادت تر سره کولو ته خپلې متې راونغاړي.





## په اسلام کې بېلابېل عبادتونه دي:

په اسلام کې هغه نیک عمل چې د الله پاک خوښ وي او مونږ ورباندې هغه ته ځان نیږدې کوو، دیته شرعي عبادت وایې چې بېلابېل ډولونه لري:

- د اسلام شعائر: لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، د قرآن کریم لوستل، د الله پاک څخه دعا غوښتل، د الله پاک ذکر کول او داسې نور.
- ښیګړه کول: لکه د مور او پلار سره ښیګړه کول، د خپلوانو سره خپلولي پالل، د خپل اهل و عیال سره ښه تعامل کول، په پیر او پلور کې ښیګړه کول، هر یو کار په ښه شان سره سر ته رسول، د ګاونډي حقونه ادا کول د بې وزله خلکو سره مرسته کول، او داسې نور.
- همدغه شان عبادت ښو اخلاقو ته هم شامل دی، د بیلګې په توګه رښتیا ویل، امانت ادا کول، د وعدې پابندي کول، په ورین تندي خبرې کول، د حیاء صفت خپلول او داسې نور.

په همدې خاطر یو مسلمان همیشه د عبادت په حالت کې وي که په کور کې وي یا مسجد کې وي او یا په کار کې وي د مسلمان ټول ژوند عبادت دی، د الله پاک وینا ده: ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الأنعام: ١٦٢]. ژباړه: ورته وایه: بې شکه زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم او زما ژوند او مرګ هر څه د مخلوقاتو رب الله لره دي. [الأنعام: ١٦٢].


1
39



## دریم بنیادي اصل

# ستا پیغمبر څوک دی؟

### زما پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی:

زمونږ پیغمبر: محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم دی، په اخره کې یې نسب د الله پاک پیغمبر اسماعیل او ابراهیم علیهم السلام ته رسیږي.

الله پاک محمد صلی الله علیه وسلم ته د پیغمبرۍ پیغام په مکه مکرمه کې ورکړ عمر یې په دغه وخت کې څلویښت کاله و، د قرآن کریم نزول ورته پیل شو خلک یې د الله پاک په لور راو بلل، د اسلام دعوت یې پیل کړ، په دې لاره کې یې د خپل قوم لخوا ډیره تکلیفونه او کړاونه ولیدل، ملګری یې ورته په شهادت ورسول او ځني نورو ته یې ډیر عذابونه ورکړل، تر دې چې الله پاک خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د مکې مکرمې نه د هجرت کولو حکم وکړ تر څو مکه مکرمه پریږدي او د مدینې په لور هجرت وکړي، تر څو د اسلامي دولت بنسټ او بنیاد کیږدي، همدغه وه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ هلته یې د اسلامي دولت بنیاد کیښود اسلامي تولنه یې رامینځ ته کړه، لس کاله یې د هغوې په مینځ کې تیر کړل خلک یې د الله پاک دین ته



رابلل، تر دې چې اسلامي شريعت يې بشپړ بيان کړ، او د الله پاک دا ايت نازل شو: د الله پاک وينا ده: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ [المائدة: ۳]. ژباړه: نن مې ستاسو دين درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دين په توګه درته غوره کړی دی. [المائدة: ۳].

بيا پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفات شو خو سترګې يې د الله پاک په دين يخې شوې وې خلک د الله پاک په دين کې په خپله خوښه په ډلو ډلو داخليدل، د الله پاک وينا ده: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (١) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (٢) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ [النصر: ۱ - ۳]. ژباړه: کله چې د الله مرسته او بريا راشي. + او خلک ووينې چې د الله په دين کې ډلې ډلې داخليږي + نو بيا د خپل پالونکي له ستاينې سره د هغه پاکي بيانوه او بخښنه ترې غواړه، بيشکه هغه ډېر بخښونکی دی. [النصر: ۱ - ۳].

## مهربانه پيغمبر:

زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم د مهربانۍ پيغمبر دی مهرباني د هغه د ژوند په هر اړخ کې ښکاره ځليږي، د الله پاک وينا ده: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ [الأنبياء: ۱۰۷]. ژباړه: او نه يې ليږلی مونږ ته؛ مګر رحمت د ټولو خلکو لپاره. [الأنبياء: ۱۰۷].



پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپلې مهربانۍ له مخې ډېر حرص کولو تر څو ټول خلک په سمه لار روان شي، د کفر،شرک، او سرکشۍ له تیارو څخه د ایمان، علم او هدایت رڼا ته راووځي، تر دې چې کومو خلکو به د ایمان څخه مخ اړه ولو نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم به ډېر زیات خفه کېدلو، د الله پاک وینا ده:﴿فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا﴾ [الکهف: ٦] . ژباړه: نو ښايي ته له ډېره غمه د هغوی په ورووسته ګرځېدو د خپل ځان وژونکی یې، که په دې خبره یې ایمان رانه وړلو. [الکهف: ٦].

همدغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مؤمنانو هم ډېر زیات مهربانه وو، د الله پاک وینا ده:﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ﴾ [التوبة:١٢٨]

ژباړه: (دا دی) تاسو ته یو داسې رسول راغلی چې خپله له همدا تاسو څخه دی، څه چې تاسو کړوي هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تمامیږي، ستاس] د ښېګڼې حریص دی، په مومنانو مهربان خواخوږی دی. [التوبة:١٢٨]

پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په شریعت کې هم کوشش کولو تر څو په خلکو آساني راولي او د سختیو څخه یې وساتي، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم وینا ده: «يَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا وَلاَ تُنَفِّرُوا» رواه البخاري ومسلم. ژباړه: تاسې آساني کوي، سختي مه کوي، زیري ورکوي نفرت مه خپره وي. رواه البخاري ومسلم.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ډېر مهربانه و، خاصکر په ښځو او ماشومانو باندې، یو صحابي انس بن مالک رضي الله عنه وایي: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَرْحَمَ بِالْعِيَالِ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلی الله علیه وسلم» رواه مسلم. ژباړه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ښځو او ماشومانو باندې ډېر زیات مهربانه و چې داسې مهربانه ما بل هیڅوک نه دی لیدلی. رواه مسلم.

تر دې چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مهرباني پر څناورو هم وه ځکه چې خپل امت یې د څناورو سره د ښه چلن په لور رابللې دی او خپلو ملګرو ته یې یوه ورځ وویل: چې یو بدکاره ښځه وه خو یو تږي سپي ته یې اوبه ورکړې نو الله پاک ورته ببښه وکړه او جنت ته یې داخله کړه، او یوه بله ښځه وه چې یو پیشو یې په بند کې ساتلې وه او خوراک یې نه ورکولو تر دې چې هغه پیشو مړه شوه، نو الله پاک دا ښځه اوور ته داخله کړه.

## د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پیغام ټولو خلکو لپاره دی.

مخکني پیغمبران به د یو خاص قوم لپاره راتلل مګر زمونږ پیغمبر الله پاک د ټولو خلکو لپاره د پیغمبر په حیثیت رالیږلی دی، د هغه پیغام په هره زمانه کې د ټولو خلکو لپاره دی. د الله پاک وینا ده: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾ [سبأ: ۲۸]. ژباړه: او ته مو ټولو خلکو ته پرته له یو زېري ورکونکي او وېروونکي بل څه نه یې لیږلی خو زیاتره خلک نه پوهیږي. [سبأ: ۲۸].

د الله پاک وینا ده:﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ [الأعراف: ۱۵۸]. ژباړه: ووایه: ای خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم [الأعراف: ۱۵۸].

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویلي دي: « وَكَانَ النبيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً، وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً» رواه البخاري. ژباړه: مخکني پیغمبران به خاص یو قوم ته راتلل او زه د ټولو خلکو لپاره پیغمبر یم. رواه البخاري.



په همدې خاطر په هر يو انسان باندې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د پيغمبرۍ نه راواخله تر دې زمانې پورې او ان تر قيامته پورې په ټولو خلکو باندې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پيروي او په هغه باندې ايمان او د هغه په دين کې داخليدل واجب دي هغه څوک چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پيروي وکړي نو په دنيا او اخرت کې به خوشحالي او نيک بختي تر لاسه کړي او هغه څوک چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د پيروي څخه مخ واړه وي نو په دنيا او اخرت کې به خوار او ذليله وي، د الله پاک وينا ده: ﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى (١٢٣) وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾ [طه: ١٢٣، ١٢٤].

ژباړه: نو چا چې زما د لارښوونې متابعت وکړ، هغه به نه بې لارې او نه بدبخته شي. + او څوک چې زما له ذکره مخ واړوي، هغه لپاره تنګ ژوند دی او د قيامت په ورځ به يې ړوند راپاڅوو[طه: ١٢٣، ١٢٤].

## پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل کور او اهل عیال کې:

په کور کې د انسان اخلاق ښه معلومیږي، چې په کور کې یې د ښځې او بچو سره اخلاق ښکلي دي، ځکه چې په کور کې انسان په خپل طبیعت کړنې تر سره کوي او له ځان ښودنې څخه لرې وي.

که یو څوک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حالت کې سوچ وکړي سره له دینه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ټول امت مشري کوله او ټول امت ته یې اسلامي لارښوونې هم کولې، خو بیا یې هم د خپل کور والاو سره د ښه تعامل ډیر ښاپسته مثالونه پریښې دي.

د عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وشوه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په کور کې څه کول؟ عائشه رضي الله عنها وایي:«كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ - تَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِهِ - فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ» رواه مسلم. ژباړه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په کور کې د خپل کور د خلکو خدمت کولو، او چې کله به د لمانځه وخت راغی نو خدمت به یې پریښود او لمانځه ته به لاړو. رواه مسلم.

په ټولو خلکو کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپل کور والاو سره ډیر ښه چلن کولو، د ښه تعامل یې ډیر ښاپسته مثالونه جوړ کړي دي پیغمبر صلی الله علیه وسلم به کوشش کولو تر څو د خپل کوالاو عاطفي او نفساني ټولې اړتیاوې پوره کړي او هغوې همیشه خوشحاله وساتي، عائشه رضي الله عنها وایي: «لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا عَلَى بَابِ حُجْرَتِي وَالحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ فِي المَسْجِدِ، وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ، أَنْظُرُ إِلَى لَعِبِهِمْ» رواه البخاري ومسلم. ژباړه: یوه ورځ مې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولید چې زما د حجرې په دروازه کې ولاړ دی او مسجد نبوي کې حبشیانو لوبه کوله او پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې تماشه کوله، نو زه یې هم د خپل ځان سره پټه ودرولم تر څو زه هم د لوبې تماشه وکړم. رواه البخاري ومسلم.



پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د خپلو لوریانو ډېر عزت او احترام کولو، کله چې به فاطمه رضي الله عنها د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کور ته ورغلله، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم به ورپاڅیده هغه به یې ښکل کړه او بیا به یې ورته د ناستې ځای برابر کړ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د خپلو لوریانو پوښتنه کوله تر څو د هغوي د حالت څخه ځان خبر کړي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل امت ته دا لار ښوونه هم کړې ده: «استوصوا بالنساء خیرًا» رواه البخاري ومسلم. ژباړه: تاسې د ښځو سره د خیر او ښېګڼې تعامل او کړنې تر سره کوئ. رواه البخاري ومسلم.



## د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ښایسته اخلاقو څخه:

پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ټولو خلکو کې د غوره اخلاقو خاوند و﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [القلم، الآیة:٤] ژباړه: او ته په رېښتیا پر سترو اخلاقو (سم) یې. [القلم، الآیة:٤]. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اخلاق په ډېره لوړه کچه ښایسته و چې په نورو خلکو کې هیڅوک تر دغه کچه ښو اخلاقو ته رسیدلي نه دي، ځکه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اخلاق قرآني اخلاق و:

- پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ټولو خلکو کې ډېر د عدل، انصاف، پاک لمنی، او سخي انسان و.
- په ټولو خلکو کې ډېر حیادار و.
- ډېر خاکساری و چې د هر چا بلنه به او ډالۍ به یې قبلوله او د هغې بدله به یې هم ورکوله.
- د ناروغ پوښتنه به یې کوله، د مړي جنازې ته به تللو، د بې وزله خلکو لاس نیوی به یې کولو، او هغوی ته به یې د خوراک ترتیب جوړه ولو او د عزتمندو خلکو سره به یې ښه ناسته پاسته کوله.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د هر چا سره د هغه د اړتیا پوره کولو لپاره تللو پیغمبر صلی الله علیه وسلم به هیڅ سختي او بد بزباني نه کوله، هیڅکله یې د بدي بدله په بدي سره نه ده ورکړي، مګر که د الله پاک حکم به مات شو نو بیا به پیغمبر صلی الله علیه وسلم په قهر کیدلو مګر د ځان لپاره یې د هیچا څخه بدله نه ده اخستلي.





- د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا ښایسته خوي چې څوک به ورسره مخامخ شو نو سلام به یې وربانديې کولو، او سترې مه شې به یې ورسره وکړه.
- چې څوک به ورسره کیناستلو نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په مجلس کې د هغه خیال ساتلو، هغه ته به یې د خبرو وار ورکولو او توجه به یې ورته کوله او یو ښه لارښود هم و.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم به کله ناکله ټوقې هم کولې ډیرى وخت به یې په شونډو مسکا خپره وه.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خلکو ډیر مهربانه و او خلکو ته به یې خیر رسولو.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د خوراک په هکله داسې و چې څه به و هغه به یې خوړل او د هیڅ خوراک بد به یې نه ویل، که خرما به یې مونده کړې هغه به یې خوړلې که غوښه به وه هغه به یې خوړله، که د وربشو یا غنمو ډوډۍ به وه هغه به یې خوړله، که څه خواږه یا شهد به و هغه به یې خوړل او که یواځې ډوډۍ به وه او ننګولی به ورسره نه و نو یواځې ډوډۍ به یې خوړله او که څه میوجات به و هغه به یې خوړل.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم به چې څه جامې وې هغه به یې په تن کولې کله چوغه او کله پټکی او داسې نور.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم به چې کومه سورلې وه په هغه سپور شو کله اس، کله اوښ، کله قچره او کله خر او کله به پیدل هم ګرځیدلو.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم به خپل ډیرى وخت د الله پاک لپاره په نیک عمل کې تیره ولو، او د امت دیني پالنه به یې کوله، د ډیرو ښه خوینو څښتن و. صلی الله علیه وسلم.



# پاي

اسلام ډیر لوی دین دی هغه مسلمان ته چې په تعلیماتو او لارښونو یې عمل وکړي د دنیا او اخرت همیشه خوشحالیاني او نیک بختي ور په برخه کوي، همدغه شاند اسلامي ټولني لپاره چې کله هغوی په اسلامي لارښونو عمل وکړي د پرمختګ، پاکي او ټولنیز جوړښت او امن امان په لوري روانه وي.

مبارکي درته وايو چې ای د اسلام په لاره مزل کونکیه! دا لویه الهي ډالۍ دې مبارک شه! وس نو د اسلام پاکه عقیده، لارښوني، حکمونه، اخلاق او اداب زده کړه خپله وربانديې عمل وکړه او په خپل ټول ژوند کې د اسلام ښکلا راوله، زرده چې د اسلام ښایسته ښکلا او اثر به ستا په ژوند کې ښکاره شي، تر څو په ډاګه شي چې د اسلام دین څرنګه د یو انسان په شخصي او ټولنیز ژوند کې ښه بدلون راولي انسان نیک بخته شي او ورسره ګیر چاپیره خپلو خپلوان ښځه بچې، ملګري او داسې نور خلک هم نیک بخته شي، او د اسلام په ښایسته لاره روان شي.

دا کتاب ستا لپاره په لومړي پړاو کې د ځنې دیني احکامو لارښود دی نور باید کوشش وکړي چې ګټور علم او نیک عمل تر لاسه کړي خپل ځان او زړه وربانديې ښایسته کړي، هرڅومره چې ته ګټور علم او نیک عمل تر لاسه کوي په همغه کچه ته خپل پروردګار ته نیژدې کیږي، وس نو د خپل رب کتاب قرآن کریم ته خپلې پښې وغځوه هغه لوله او په هغې کې فکر او سوچ کوه او د هغه په لارښونو عمل کوه، او ورسره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ژوند سیرت هم وخت نا وخته ګوره تر څو ستا لپاره یو ښه لار ښود شي، په ټولو خلکو کې پیغمبر یواځې هغه څوک دی چې د هغه هره خبره منل واجب دي اوله هغه پرته نور چې هر څوک وي د هغوې هغه خبره چې د کتاب او سنت سره برابره وي هغه به اخستل کیږي او که د قران او سنت سره برابره نه وه هغه به پریښودل کیږي او د نظر اختلاف په صورت کې به فیصله په قرآن او سنت بانديې کیږي، له دې سره دا کوشش وکړه چې په دین کې د بې ځایه بحثونو څخه ډه ډه وکړه تر څو په اختلاف کې اخته نه شي.

په پای کې مونږ د خپل ځان او ستا لپاره لاس په دعا یو چې الله پاک مونږ ټولو ته د سمې لارې لارښونه وکړي او د اسلام په دین مونږ ثابت قدمه کړي تر څو د هغه سره مخامخ شو.

والحمد لله ربِّ العالمین، والصلاة والسلام علی نبیِّنا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین، ومن اتبعه إلی یوم الدِّین.

مرکز أصول

OsoulCenter

www.osoulcenter.com

GUIDE TO ISLAM

د اسلام په هکله د لا ډیرو
معلوماتو لپاره

CHAT & DECIDE

په بیلابیلو ژبو د اسلام په هکله
خبرې اترې وکړه

Pashto - پشتو

دا کتاب ستا لپاره په لومړي پړاو کې د ځنې ديني احکامو لار ښود دی نور بايد کوشش وکړي چې ګټور علم او نيک عمل تر لاسه کړي خپل ځان او زړه وربانديې ښاپسته کړي، هرخومره چې ته ګټور علم او نيک عمل تر لاسه کوي په همغه کچه ته خپل پروردګار ته نيژدې کيږي، وس نو د خپل رب کتاب قرآن کريم ته خپلې پښې وغځوه هغه لوله او په هغې کې فکر او سوچ کوه او د هغه په لارښونو عمل کوه، او ورسره د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ژوند سيرت هم وخت نا وخته ګوره تر څو ستا لپاره يو ښه لار ښود شي، په ټولو خلکو کې پيغمبر يواځې هغه څوک دی چې د هغه هره خبره منل واجب دي اوله هغه پرته نور چې هر څوک وي د هغوې هغه خبره چې د کتاب او سنت سره برابره وي هغه به اخستل کيږي او که د قران او سنت سره برابره نه وه هغه به پريښودل کيږي او د نظر اختلاف په صورت کې به فيصله په قرآن او سنت باندې کيږي، له دې سره دا کوشش وکړه چې په دين کې د بې ځايه بحثونو څخه ډه ډه وکړه تر څو په اختلاف کې اخته نه شې.

osoulcenter

www.osoulcontent.org.sa

9001

International Organization for Standardization

ISO

جائزة السبيعي للتميز في العمل الخيري

په بيلابيلو ژبو کتابونه او داسې نور
راښکته کول

OSOUL STORE

osoulstore.com